سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۱/۲۷

# خوږه گناه ؟

د تیارو بیړی چپه شی، که دی ښکل که د یار مخ
رڼا سپینه را خوره شی، که دی ښکل که د یار مخ
را څرګند شی درته زړه کی، لامکان او لادرکه
هله ختمه به دا شپه شی، که دی ښکل که د یارمخ
را روان شی ستوری یو یو، ستا په لوری له آسمانه
سپوږمی ستا په بام دیره شی، که دی ښکل که د یارمخ
روژه ماته توبه ماته، خلاصی بندی دروازی شی
هر منزل مکه کعبه شی، که دی ښکل که د یارمخ
اخترونه شی بهار شی، ګلان زانګی په تتالو کی
بیرته ځوانه زلیخه شی، که دی ښکل که د یار مخ
که بی برخی له خوښی یی، دی پیکه پیکه دنیا کی
ستا په زړه به را میلمه شی، که دی ښکل که دیارمخ
کلیوال به جوړ ښاری شی، له ثوابه په ګناه خوښ
لا به دا ګناه خوږه شی، که دی ښکل که د یار مخ

جنوری/۲۲/۲۰۱۸
تورنتو ـ کانادا